ليکونکي : ګارت پورتر(Garath Porter).
سرچينی اودخپريدو نيټه : ګلوبال ريسرچ «۲۰۱۴-۱-۱۰»
ژباړونکي : پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل» .

---

په دی لاندنی انځور کی له ښيي څخه کيڼ خواته: ددفاع وزير ښاغلی رابرت ګيتس ، جمهور ريس اوباما ، او د امريکی دټولو نظا می قواو ستر درستيز ښاغلی ادميرال ميک مولين ،نيټه دجون دمياشی « ۳۰» کال (۲۰۱۱) ددوېد فوتو له خوا عکاسي ( DOD photo).



رابرت ګيتس ددفاع دوزارت مخکينی وزيردافغانستان په جنګ کي د اوباما دلوبي ديوښلی ريښتيانی داستان څخه پرده پورته کوي

Former secretary of Defense Robert Gates

Conceals Real Story of “Gameing” obama on Afghan war

واشنګتن: دامريکی د متحده ايالاتو د دفاع د وزارت مخکينی وزير ښاغلی رابرت ګيتس د خپل خاطراتو يا د يا دونو په يادولوسره پر«بارک اوباما » باندي ديوی نيو کي په ترخ کي داسی ياونه کوي : ښاغلی اوباما دافغان د روان جنګ دستراتيژی په اړه دخپل اداری دمخکينی را تعهد کړی وعدو څخه چي بايد دهغه اداره د دی جګړی په اړه لازم اوضروری بربنډ خبری اتری تر سره کړای وايي چي آيا اوباما ددغه روانی

جګړی څخه پوره ملاتړ کوی اویا که نه وکوی دهغه روښانه دریځ تر اخره معلوم نشو یعنی چی هغه په دی موردکی ډیر کم پاملرنه تر سره کړي دی.
درابرت ګیتس په نظر دافغانستان دجګړی په اړین حتماً با ید پر دوه ډیر مهم تاریخی واقیعتونو باندی ځان پوه کړو : لمړي – اوباما دخپل ځانګړی امنیتی مشاور دډیر شد ید فشارله مخی دیوی خواوړد بربنډ ملاحظاتو په نظر کی نیولو سره له بلی خوا دی موافقی ته ورسید چي با ید په افغانستان کی دامریکي دسرتیرو شمیرزیات کړي .دوهم –دجنرال داوید پتریوس دهغه مخکینی تعهد څخه دانکار یا د سرغړونی موضوع کوم چي دهغه په ترڅ کی هغه جنرال بایدامریکی دمتحده ایالاتودسرتیروله افغانستان څخه دوتلوزمینه د (۲۰۱۱) کال تر نیمیایی مودی پوری چمتو کړای وایي. چي اصلاً چمتو نشو .
هغه خطرناک سګنال کوم چي مخکی دایتلافی دسرتیرو دشمیر دزیاتوالی څخه تر غوږ شو هغه دمخکینی پا لیسی پر ځای د خپل خوښی د پا لسی ځای پر ځای کول اوله مخکینی پا لیسی څخه تیرید نه وه .
رابرت ګیتس پخپل نوی چاپ کړ شوی کتاب کي د(جنګ د وزیرددندی دخاطراتو ) تر عنوان لاندی یواځی ډیر روښانه رفرنسونو اویادونو ته له افغانستان څخه دامریکایی دسرتیرو دوتلو همغه لمړنی تاکل شوی نیتی ته څرګند اشاره کړی دي.
دامریکی ددفاع وزارت مخکینی وزیر ګیتس د( مجرب نظامی افسرانو د بد ګما نی او بی علاقګی ) موضوع ته داوباما اودهغه د مرستیال جوبایدن ته د اشا ری په ترڅ کی داسی څرګندونه کوي :دمارچ دمیاشتي په دریمه کال (۲۰۱۱) دسپینی ما نی دتنویر په یوه خونه کی د ملی امنیت شورا رابلل شوی غونډه کی چی د اوباما په خبرو اود مخکینی پلان کړل شوی ا جندا سره سم پخپل کار پیل وکړ له هرڅه نه مخکی د امریکی دمتحده ایالاتو جمهورریس ښاغلی اوباما پر نظامی مسولو کړیو باندی نیوکی وکړ چی دوی ولی له افغانستان څخه دخپل سرتیرودوتلو دمهال ویش دبیرته غور ځولو نیته اومهال ویش په مطبوعاتو کی خپور نکړل .
ګیتس داوباما خبری کټ مټ داسی نقل قول کوي : (که چیری زه پری باورمند شوی وای ما به خپل نقش لوبوله ...... ) ګیتس وايي چی ښاغلي (اوباما خپل جمله یا خبری افاده ناتمام پریښودل) کوم چي زما په آند سره ممکن دهغه پایلی به ډیرخطری اووسي .
رابرت ګیتس لیکی چي ښاغلی اوباما ډیر زیات ناراحت اوپاریدلي ښکاریده ، او داځکه چي هغه داسی انګیرل چي ښاغلی پتریوس په داسی یوه غته میتنګ کی چي د سپینی مانی دتنویر په اطاق کی دایر شوی دی دهغه سره لوبی یا په ضمنی بنی دهغه بی احترامی کوی .
رابرت ګیتس وایی :کله چي زه راغلم اوپه دی جلسه کی می ګډون وکړ ،ځما داسی په یادیږي اویا ما ته داسی اند ییننی را پیدا شو چي ښاغلی اوباما پرخپلو فرماندها نو باندی هیڅ باورنه لری اوهغه اصلاًنه غواړی چي دافغانستان دجمهورریس ښاغلی حامد کرزی

تر شا ودریږی اویا بالاخره هغه پخپل طرح شوی ستراتیژی با ندی ډډه ولګوی ، هغه هیح نه انګیری چی دغه جګړه او یانور ټول په دی جګړی پوری تړلی شیان د هغی دپاره تر سره کیږی اویا دهغی دستور تر سره کیږي . یعنی چی ښاغلی اوباما په دغه جلسه کی خپل زړه ګرمی له سره ښکاره نکړ .

پر جنرال پتریوس با ندی د ښاغلی اوباما بی با وری ټول دافغانستان د پیښو په اړه صراحت درلود اما پتریوس پخپلو سګنالونو کی خپلی هیلی اوغوښتنی کمزوره طرح کول چي ګیتس دهغه په آند له قلمه ولوید لی دي .

اوباما له همغه لمړنی سرنه افغانستان ته دنظا میا نود (۴۰۰۰۰) زیا تی سربازانو دغوښتنی دلیږلو په اړه اودسیا سیی جغرافیا په نظر کی نیولوسره اودملی امنیت دشورا دجلساتو دیاداشتونو په ارتباط کوم چی باب اوډ (Bob Woodward) د اوباما دجنګ یا داشتونه ترلاسه کول اویا داچی نوموړی یاداشتونه جا ننن الټر(Jonthan Alter) دنیوزویک ژورنالست او خبرنګار په اختیار کی ولویدل ډیر سخت محتاط او نګران وه .

اوباما اودهغه مرستیال جوبایدن دواړه دسپتمبر اود اکتوبر دمیاشتو کال (۲۰۰۹) کی په دی توافق ورسید چی پاکستان ته دافغانستان په پرتله زیات لمړیتوب ورکړی، حال داچي جنرال پتریوس او میک مولن په وار وار سره ټینګار کول چی افغانستان ته د پاکستان په پرتله با ید زیا ت لمړیتوب ورکړل شی ، د اهغه څه دی چي مشهور ژورنالیست باب اودوارد را څرګندوی .

نظامیانو خپل نظر داسی څرګندول چي که چیری طالبان ونه ځپل شی اوبیا په قدرت کی راشی نو په هغه صورت کی به هغوی القاعده بیرته افغانستان ته را غواړي ،اما جوبایدن (Joe Biden) د اوباما په مکرر هڅونو سره وار په وار دپتریوس اود میک مولن پر استدلا باندی نیوکی او حملی کول او په عین وخت کی پیتر لابوی ( Peter Lavory) د(CIA) یورسمی مقام په دغه موردکی داسی څرګندونه وکړچی دوی لاتراوسه په دی مورد کی کوم مسند سند او مدرک په لاس کی نه لری چي دهغه څخه ملاتړ تر سره شي ، دبلی خوا څخه ښاغلی اوباما په دغه جلسه کی دنظامی قوتونو پواسطه سره یوه بله رغنده استدلال جلسی ته وړاندی کړ اوله هغو څخه پوښتنه وکړ چی دامریکی دمتحده ایالاتو دنظامیانو دایمی حضور په افغانستان کی دپاکستان د ثبات د پاره ضرر نه رسوی ؟

د ستا نلی میک کرستا ل دایسا ف دعمومی قوماندان داضا فی (۴۰۰۰۰) سربازانو دغوښتنی د ملاتړ په اړه داسی ښکاریده چی سپینه ماڼي نه غوښتل چی خپل توافق تر هغه وخته پوری څرګند کړی تر څو چي په ښکاره بنی سره په یوه بله ډایریکشن کی یو واضح پیښی تر سترګو شوی نه وی .

داکتوبر دمیاشتی په پنځمه نیټه په هغه جلسه کی چی په سپینه ماڼی کی دایر شوی وه

جنرال پتریوس بیا پخپل تیر یادونو باندی تینګار وکړ چي که چیری په افغانستان کی طالبان بیا قدرت تر لاسه کړی القاعده بیا له سره افغانستان ته را غواړي او په همدی وخت کی میک مولن ، جنرال ګیتس او هیلری کلنتون له یوسره دجنرال پتریوس ددی استدلال سره خپل توافق وښودل ، داهغه مطلب دی کوم چی اډوارد(Woodward) راڅرګند کړ.

شپږ ورځی وروسته د میک کلاچی ورځپا ڼه پخپل یو خپورکړ شوی ګذارش کی داسی څرګند کړ چي سپیه ماڼی درارسیدلی ګواښ دکمښت اودتقلیل دپاره دهغه اطلاعاتی منابعو څخه په شمول د رسمی اطلاعاتی ټولنی ، د نظا میا نو دخبر رسولو اود امریکی دباندنیو چارو دوزرارت د راټول کړل شوی معلوماتو په نظر کی نیولو سره د القاعدی د خطراتو درا کمولو په اړین یوه رغنده ستراتیژیک وړاند یز اویا طرحه یی په تصویب ورسول . دالقاعدی دبیرته راستنیدو په اړین داردو د مینځنی او دلوړو سطحو د مسولینو اود دیپلوماتیکی سرچینو د مسولو مقاما تو سره د (۱۵) مرکو او مصاحبو په ترڅ کی هغه یولړ معلومات کوم چی تر لاسه شو په هغه کی داسي په ډاګه شو اوهغه داچي که چیری طالبانو په افغانستان کی بیا قدرت تر لاسه کړی القاعده له سره افغانستان ته را غواړي .

هغه څه چی دلته باید له هغه څخه یادونه وشی هغه دادی چی نوموړی اطلاعاتی ټولني ددی موضوع په هکله کوم ملی اطلاعاتی اټکل اویا تخمین تر سره نکړ بلکه دا پخپله د اوباما د ملی امنیت د مسولینو د پرنسیپونو په پیروی سره دغه را رسید لی اطلاعاتی معلومات تاید او منل شوی معلومات دی .

یوه بل مطلب کوم چی ددی جلسی د ګډون کونکو پام ځانته اوړولی وه هغه دا وه چي هغوی په دی تشویش کی وه چی که چیری ددی جلسی دغه ننی ډیرګرم خبری اتری هغه هم افغانستان ته داضافی سرتیرو دلیږلو موضوع کوم چی دسپینی ماڼی او د ایتلاف تر مینځ ځانګړی موضوع دی د باندی ټولنیز رسنیو ته افشا شی نو په څرګند بڼی سره د سیاسی له اړخه ډیر غټ نقص اوجبران نه منونکی پا یلي به ولري اود اوباما د ملی امنیت د مقاماتو داساساتواود مذاکری د ګډونکونکو په شمول د جنرال پتریوس ، مولن ، ګیتس او کلنتون له خوا به بی دګولی دچلولو څخه بل کوم ګټی به ونه لری ، نو په دی بنیاد جنرال پتریوس ، مولن ، ګیتس او کلنتون په ډاګه سره له اوبا ما څخه غوښتل اوحتی چی اوبا ما ته سر په سر سګنالونه ورکولِ چی هرومرو د جنرال ستا نلی میک کریستل غوښتنی ومنی او باید چی افغانستان ته اضافی سرتیری ولیږي .

دنومبر په میاشت کال (۲۰۰۹) کی اوباما دخپل ملی امنیت د ټیم سره په جوړجاری کی ومنل چی هغه د(۴۰۰۰۰) سرتیر په عوض کوم چی دستانلی میک کریستل غوښتنه دی (۳۰۰۰۰) اضافی سرتیری به افغانستان ته ولیږي ،ا ما نه د یو ملی ضد شورش مبارزی دپاره چی طالبانو ته شکست ورکړی کوم چی د جنرال پتریوس غوښتنه دی ،

یواځی دنظامیانو اغیزمن فعالیتونه کولای شی چی طالبانو ته شکست ورکړی یا دهغوی نفوذ په سیمو کی را ټیټ کړي .
له هرڅه نه مهم موضوع چی باید ورته پام واړول شی هغه دادی چی د کال (۲۰۱۱) ارزیابی څه افغانستان ته دسرتیرو دلیږلویا دهغوی دراایستلومسولیت به څوک په غاړه اخلي ، اما هغه څه چي د هغه مخ خوړ(slope) به څرنګه وی هغه څه دی چي اودوارد(woodward) ددی روانی جلسی څخه ترلاسه کړی ، هغه داسی څرګندوی چي ښاغلی اوباما په ډیر ټینګار سره اصرار کول چی که نظا می قوتونه کومه سیمه نشی رانیولی چی بیرته د افغا نی دولت په اختیار کی واچوی ، نو ډیر هڅه دی ونکړی.
ښاغلی اوباما دنومبر په (۲۹) کی د ګیتس ،مولن اوجنرال پتریوس سره کتنه وکړ اودهغو نظر په رسمی بڼی سره د مخکینی جوړجاری طرحی د پلی کولو اویا نه پلی کول وغوښتل ، ښاغلی مولن په بشپړه توګه دنوموړی وړاندیز څخه خپل ملاتړ په ډاګه کړ ، اما جنرال پتریوس وویل «هرشی ممکن کیدای شی » چي تر سره شی اونظامی قوتونه دخمکی پرمخ فعا له شي او دجولای په میاشت کا ل (۲۰۱۱) کی به له افغانستان څخه دسرتیرو د را ایستلو یا دانتقال پروسه به پیل شي .
دیادونی یو بل مطلب چي باید ورباندی یو څه تم شو هغه دادي چی ایتلافی ډلی یعنی هغوی چي افغانستان ته داضافی امریکایی سرتیرو دلیږلو طرفدار وه وروسته دخپل پالیسي په بدلون سره سمدستی د را ولاړی شوی خطرونو نښی اونښانی سره مخا مخ شول اوله بلی خوا څخه یوه ورځ وروسته یعنی ددسمبر لمړی کا ل (۲۰۰۹) کی کله چي اوباما په ویست پاینټ (west point) پخپل خبرو کی له افغانستان څخه دامریکا یي سرتیرو دوتلو دپیل نیټه دجولای میاشت کا ل (۲۰۱۱) اعلام کړ ، ګیتس او کلنتون دسنا په نظامی کمیټه کي داسی شهادت ورکړ چي اوباما له افغانستان څخه دامریکایی سرتیرو دوتلو دپیل نیټه تر دکال (۲۰۱۱) نیمایی پوری پوره نه دی قید کړی .
اوباما په تاکید سره خپل مطبوعاتی مدیر ته وویل چی دهغه پریکړی (CBS) ته څرګند کړی چی له افغانستان څخه دامریکایی سرتیرو دوتلو دپیل نیټه چی ما د جولای په میاشت کال (۲۰۱۱) ټاکلی دی هغه نیټه دی لکه چي په «تیږو کی حک» شوی وی ، نوکله چي داوباما دغه څرګندونه واوریدل شو ، جنرال پتریوس سناتور لیند سی ګراهام (Lindsey Graham) ته وویل دایوه «ستونزه» دی اووویل : تاسی باید د ضرورت په نظر کی نیولو سره په مشخصه توګه له افغانستان څخه د امریکا یی سرتیرو دوتلو تاریخ قید کړی داهغه مطلب دی کوم چی اوډوارد(Woodward) څرګند کړ ،چی هغه یعنی جنرال پتریوس ګیتس اوکلنتون ته بلنه ورکړ چی هغوی ددی پریکړی سره پخپله( مقابله ) وکړي.
کله چی دامریکی دمتحده ایالاتو اود ناتو سرتیرو په افغانستان کی د (۲۰۱۰) کال په

نیمیایی کی دستور تر لاسه کړل به دی وخت کی جنرال پتریوس د اوګوست دمیاشتی په پنځلسم کی یو مطبوعاتی ناستی ته راوبلل شو ، هغه په دی مطبوعاتی ناسته کی په دی فکر ولویدل چي ایا هغه د اوباما له خوا دامریکایی سرتیرو دوتلو د پیل نیټه کوم چي هغه په نښه کړی دی هغه تاریخ بیرته واچوی اویا نه ؟ کوم چی ځواب یی په قطعی ډول سره (هو) وه ،جنرال پتریوس په ښکاره بڼی سره دیو پوښتنی په ځواب کی دخپل توافق په اړه څرګند کړچي هغه داوباما له طرفه دیو تهد ید سره مخامخ دي .

دسپتمبرپه میاشت کال (۲۰۱۰) کی یومتقاعد کلونیل (ډګروال) چی دجنرال پتریوس په ستا ف کی کارکول اواوس دامریکی دمتحده ایالاتو دنوی امنیت ملی داداری مشر دی (IPS) ته وویل :چی اوباما د جمهوریخواهانو دمطبوعات تر شدید فشارلاندی پریوتی دی چی باید له افغانستان څخه دامریکایی دسرتیرو دوتلود پیل نیټه بشپړ قید ونکړی او هغه ټاکلی تاریخ دی با ید شا ته واچوی. اود دسمبر په میا شت کی جنرال پتریوس داوباما د سپینی ماڼی یو وتلی مشاور یعنی جنرال دوګلاس لوتی (Douglas Lute) ته ددی روانی جګړی په اړه داسی وویل :مونږ اوتاسی ټول باید له همدی اوسه دکار اودپروګرام د پرمختګ د پاره په کار پیل وکړو اومونږ د کافی وخت په درلودلوسره باید خپل پام هغه څه ته واړو چی دهغه ضرورت لیدل کیږی دا هغه مطلب دی کوم چی ادادوارد (woodadward)څرګند کړ.

سره له هغه چي جنرال پتریوس دکال (۲۰۱۱) په لمړیو هفتو کی داوباما دقهر او دغضب زمینه دامریکایی سرتیرو له افغانستان څخه دوتلو پرموضوع باندی برابرول یعنی هغه هڅه کول چی دسرتیرو دوتلو د پیل نیټه دخپل متحد ینو یعنی ګیتس – کلنتون اوپه کانګرس کی دجمهوریخواها نودفشا رپه واردولوسره شاته وغورځوی اومسولیتونه دافغانستان دولت ته زر ونه سپارل شی ډیر هلی ځلی وکړ کوم چي هیڅ ځای ونه نیول .

په هرصورت ګیتس په دی ښه پوهیدل چي ښاغلی اوباما دتاریخ په وړاندی دغه روانه «لوبه » چی دهغی په وړاندی نه داچي د جنرال پتریوس له طرفه ترسره کیدل اوهغه د هغی په وړاندی خپل عکس العمل په ډاګه کول بلکه هغه د خپلومتحدو بیروکراتانو درنګارنګ مانورونه په مقابل کی دافغانستان دجګړی د محدود یتونو د له مینځه وړلو د پاره کوم چی اوباما دهغی سره مخامخ دی هم خپل عکس العمل ښودل .د یادونی وړ دی چي ګیتس دخپل اندیښنی او حساب سره سم د یولړ غلط فعالیتونو دتر سره کولو په لټه کی بخت وه تر څو چی وشی کړلی داوباما موافقه دافغانستان دجګړی په تشد یدولو کی تر لاسه کړی .

## دګاريت پورتر(Garwth Porter) یا ددی مقالی دلیکونکی په اړین :

ګاريت پورتر یووخپاڼی لیکونکی څیرنپال محقق اودا مریکی د متحده ایالاتو دملی

امنیت کارپوه کوم چی دافغانستان په جګړه کی په کال (۲۰۱۱) دبریتانیا د جیلهورن دروزنامه نګاری جایزه تر لاسه کړ دهغه نوی کتاب چی د ایران د یوائځنی بحرا ن جوړنکی (هستوی ډار) تر عنوان لاندی چمتو شوی ممکن دی چی د فبروری کال (۲۰۱۴) کی چاپ شی .

----------------------------------------------------- په درناوی